هفته واره رساله

د امیرِ اهلِسُنَّت تقریباً 22 کاله مخکښینے بیان

# د زړهٔ د ساتني فضیلتونه

د خوشحالۍ فرښته

د زړهٔ د ساتني یو اسان حالت

د زړهٔ د ساتني مختلف حالتونه

د 20 کالو پورې نابینا وو


شیخ طریقت، امیرِ اهلِ سنت، بانيِ دعوتِ اسلامي حضرت علامه مولانا ابو بلال

محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ط

# د زړهٔ د ساتنې فضیلتونه[1]

**دُعائے عطّار:** اے کریم ربه! څوک چې دا رساله "د زړهٔ د ساتنې فضیلتونه" ولولي یا واوري هغه د مسلمانانو پهٔ زړونو کښې خوشحالئ داخلونکے جوړ کړې او هغه سره د مور او پلار او خاندانه بے حسابه اوبخښې -

اٰمِیْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

د دوارو جهانو مالِک و مختار، مکي مَدَني سرکار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې پهٔ ما باندې 100 کرته دُرُودِ پاک ولوستو الله پاک د هغهٔ د دوارو

[1] ••• دا بیان امیر اهل سُنت، باني دعوتِ اِسلامي حضرت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي ضیائي دامت بَرَکاتُهمُ العالیه پهٔ 22 رمضان المُبارک کال 1424ھ بمطابق 17 نومبر کال 2003ء د دعوتِ اِسلامي پهٔ هفته واره د سُنّتو نه پهٔ ډکه اجتماع کښې کړے وو- کوم له چې د المدینة العلمیه شعبې "بیاناتِ امیر اهل سُنَّت" ترتیب ورکړے دے-

سترګو ترمینځه ولیکي چې دا د نفاق او د دوزخ د وور نه ازاد دے او هغه به د قیامت پۀ ورځ د شهیدانو سره ساتي- (مجمع الزوائد، 253/10، حدیث:17298)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بوډۍ ابۍ دیدار نصیب شو

یو ځل پۀ مدینه منوره کښې پۀ کال 1405ھ کښې د حاضرۍ پۀ وخت زما (یعني د امیر اهلِ سُنَّت حضرت علامه مولانا محمد الیاس عطار قادري رضوي ضیائي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه) یو پیر بهائي خدائے بخښلے حاجي اسماعیل ما ته دا واقعه بیان کړه چې دوه یا درې کاله مخکښې تقریباً یوه 85 کلنه حاجنه د شنو جنګلو مخې ته د سلام عرض کولو د پاره حاضره شوه او پۀ خپلو ماتو ګوډو الفاظو کښې یې صلوٰة او سلام عرض کول شروع کړل، بل خوا یوې زنانه د کتاب نه ډیر پۀ ښۀ الفاظو سره د صلوٰة او سلام نذرانې عرض کولې، دا چې یې ولیدل نو د هغه ان پړې بوډۍ زړۀ خفه شو، هغې پۀ دربارِ رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې عرض اوکړو: یَا رَسولَ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! ما خو سبق نۀ دے وئیلے چې پۀ ښو ښو الفاظو سره سلام عرض کړے شم، زما د ان پړې سلام به ستاسو صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چرته خوښیږي! بیا د هغې بوډۍ زړۀ راډک شو او د ډیرې ژړا نه پس چپ شوه- د شپې چې کله اوده شوه نو بخت

يـې رابيدار شو! څۀ ګوري چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړے دے، شونډې مبارکې يـې وخوزيدلې، د رحمت ګلونه پۀ رژيدو شول، الفاظو څۀ داسې ترتيب وخوړو:چې تۀ ولې مايوسه کيږې؟ واوره! مونږ د ټولو نه وړومبے ستا سلام قبول کړو-

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** تاسو وکتل چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپلو غلامانو د زړونو څومره خيال ساتي چې پۀ يوه طريقه هم زما د غلام زړۀ مات نۀ شي-

تم اُس کے مدد گار ہو تم اُس کے طرفدار

جو تم کو نکمّے سے نکمّا نظر آئے

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عظمت نه قربان شم! مات زړونه د هغوئې پۀ دربار کښې قبول دي او هغوئې مات زړونه رِغوي، اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه بالکل صحيح فرمائيلي دي:

سنتے ہیں کہ محشر میں صرف اُن کی رَسائی ہے — گر اُن کی رَسائی ہے لو جب تو بن آئی ہے

یُوں تو سب اُنہیں کا ہے پَر دل کی اگر پوچھو — یہ ٹوٹے ہوئے دِل ہی خاص اُن کی کمائی ہے

مطلع میں یہ شک کیا تھا واللہ رضاؔ واللہ — صرف اُن کی رَسائی ہے صرف اُن کی رَسائی ہے

## د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اخلاقو يوه نظاره

خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به خپل غلامان خوشحاله ساتل او چرې به يـې هم د هغوئي زړونه نهٔ ماتول لكه څنګه چې حضرت سَيِّدُنا اَنس بن مالِک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كوم چې تقريباً د 10 كالو پورې د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خدمت كړے وو، فرمائي: زهٔ د 10 كالو پورې پهٔ خِدمت مبارك كښې ووم خو چرې هم زما آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا نهٔ دي فرمائيلي چې دا كار تا ولې اوكړو؟ او دا كار دې ولې وه نهٔ كړو؟ (ابو داؤد، 4/324، حديث:4774 ملتقطاً)

سرورِ ذيشان، رحمتِ عالميان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د دې خبرې ډير خيال ساتلو چې د چا زړهٔ مات نهٔ شي- آه! هغه څومره خراب او نا خوښه خلق دي كوم چې بغير د څهٔ وجهې نه زړونه ماتوي، چا ته پهٔ ترس پهٔ كتلو، د چا پهٔ رټلو او چا ته پهٔ ديـكو وركولو د هغوئي زړونه ماتوي-

## پهٔ ختهونو اوړيدل

ځيني خلق پهٔ دې طريقه هم د نورو زړونه ماتوي چې ورروستو د راتللو باوجود پهٔ جومات كښې پهٔ وړومبي صف كښې د نـمونځ كولو د پاره پهٔ ورروستنو صفونو كښې د خلقو د پاسه پهٔ اوړيدو او نورو له پهٔ ديـكو وركولو

هلته د ځان رسولو کوشش کوي، پته نۀ لګي چې څومره خلقو له به يې زړونه ازار کړي وي، څومره له به يې ديکې ورکړې وي او څومره به يې مَعَاذَالله! پۀ ښنګل او لَته وهلي وي حالانکې د داسې کولو نه پۀ واضحه توګه منع فرمائيلے شوې ده-

پۀ حديثِ پاک کښې دي: څوک چې د جُمعې پۀ ورځ د خلقو پۀ څَټونو واوړيدو هغۀ د دوزخ طرف ته پل جوړ کړو- (ترمذی، 48/2، حدیث:513) د دې يوه معنیٰ دا ده چې دۀ باندې پۀ ختلو ختلو به خلق دوزخ ته داخليږي-[1] لږ سوچ خو اوکړئ چې که چرته الغاؤ تلغاؤ جوړ شي او پۀ دغه کښه کښې څوک راپريوځي او پۀ هغۀ باندې خلق تيريږي څوک د بوټانو والا، څوک د څپلو والا منډې وهي او څوک لَته او څوک پۀ ښنګل وهل کوي او هغه د

---

1... پۀ حديثِ پاک کښې لفظ اِتَّخَذَجِسۡراً راغلے دے دا معروف او مجهول پۀ دواړه قِسمه لوستلے کيږي او دا ترجمه د معروف ده او چې مجهول يې لولې نو مطلب به يې دا وي چې پخپله به ترې پل جوړ کړے شي يعنې لکه څنګه چې د خلقو پۀ څټونو دے اوړيدلے دے، دے به د قيامت پۀ ورځ دوزخ ته پۀ بوتللو کښې پل جوړولے کيږي چې د دۀ د پاسه به خلق تيريږي او ځي به- (حاشيه بهار شريعت، حصه 761/1،4)

ښپو لاندې راځي داسې خو زما خیال دے چې د هغۀ نه به حلوه جوړه شي، دا ځومره سخته معامله ده لهٰذا د خلقو د زړونو ډیر خیال ساتل پکار دي-

## د نیکو پۀ لړ کښې ګناهونه کول

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! پۀ نیک کارونو کولو کښې د خلقو د زړۀ ازارۍ نه بچ کیدل ډیر ضروري دي- ډیرې نیکۍ داسې وي چې اِنسان سوچ کوي چې زۀ دا اوکړم خو د هٰغه نیکو کولو لړ کښې هغه د ډیرو خلقو زړونه ماتوي او ځان ګنهګاروي، شیطان پۀ داسې اِنسان پسې خاندي ځکه چې د نیکو لړ کښې د نورو زړۀ ازارونکے بیوقوفه اِنسان ګڼي چې زۀ الله پاک خوشحالووم خو هغه الله پاک ناراضه کوي او پۀ خپلو دواړو لاسونو باندې د ځان د پاره د دوزخ سکروټې راټولوي-

پۀ دې باندې ځان پۀ دې مثال سره پوهه کړئ چې پۀ نعت خوانۍ کښې حاضریدل د ثواب کار دے خو که څوک د شپې د 2 بجو پورې پۀ نعت خوانۍ کښې شرکت کوي او پۀ کور کښې ترې مور خفه وي او انتظار یې کوي چې پته نۀ لګي چې کله به زما ځوي کور ته راځي؟ او بیا پۀ دې فِکر کښې هغه پلار هم خوب ته نۀ وي پریښودے حالانکې هغۀ ته سحر نوکرۍ له هم تلل وي، اوس که چرې څوک پۀ داسې قِسمه نعت خوانو کښې شرکت کوي

او دا ګڼي چې زۀ ډير د اعلیٰ درجې عبادت کووم نو دا د هغۀ ډيره لويه خوش فهمي ده، داسې اِنسان به د مور او پلار د زړۀ ازارولو په وجه ګنهګار او د وور د عذاب حقدار وي- ياد ساتئ چې نعت خواني اګر که نيک کار دے خو دا يو مستحب کار دے خو د مور او پلار تابعداري فرض ده-

## د مور او پلار تابعداري به د کوم وخته پورې کولے شي؟

**اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** د مور او پلار تابعداري د هغه وخته پورې کول دي د څو پورې چې د معصيت يعنې د الله پاک او د هغۀ د خوږ رسول صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نافرمانۍ حکم اونکړي- که چرې مور او پلار د نـمونځ کولو نه منع کول کوي نو بيا به د دوئي خبره نۀ منلے کيږي ځکه چې د نـمونځ نۀ کولو په حالت کښې به د الله پاک او د هغۀ د خوږ رسول صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نافرماني کيږي- دغه شان که چرې مور او پلار يې د شرعي اجازت نه بغير په جومات کښې د جَمعې سره د نـمونځ کولو نه منع کړي او په کور کښې د نـمونځ کولو ورته ووائي نو په داسې حالت کښې به هم د هغوئي خبره نۀ منلے کيږي، آؤ که د منع کولو څۀ بله شرعي وجه وي مثلاً مور بيماره ده د هغې د سمبالولو د پاره څوک نشته نو په داسې حالت کښې په کور کښې د نـمونځ کولو اجازت شته- دا اُصول په ذِهن کښې ساتئ چې هيڅ يو داسې

نفلي کار نۀ دي کول پکار د کوم له وجهې چې د مور او پلار نافرماني کيږي مثلاً که مور او پلار د نفلي حج کولو نه منع کړي نو نشې تللے، که ځې نو ګنهګاريږې به ځکه چې د مور او پلار تابعداري فرض ده-

## واکې د بل چا پۀ لاسونو کښې دي

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** مونږ ته پۀ دې زمکه باندې ډير پۀ اِحتياط سره قدم ايښودل پکار دي، مونږ چې دې زمکې ته راغلو نو لکه چې مونږه خپل ځان د ډير لوئي اِمتحان د پاره پيش کړو، داسې نۀ ده چې اوس به زمونږ خوښه چليږي، مونږ هيڅکله هم د خپلې خوښې مالکان نۀ يو بلکې زمونږه واکې د بل چا پۀ لاسونو کښې دي- پۀ دې باندې داسې ځان پوهه کړئ چې که چرې چا د ورځې د 8 ګينټو د پاره نوکري اِختيار کړه نو بيا د هغۀ واکې د 8 ګينټو د پاره د خان پۀ لاسونو کښې دي هغه چې يـې کوم طرف ته غواړي اړوي يـې، که هغه خپل نوکر ته د پيسو شميرلو حکم اوکړي نو هغه به دا کار وي، که د چائے راوړلو ورته ووائي نو نوکر ته به پۀ "بنه جي" وئيلو د چائے راوړلو د پاره تلل وي-

ياد ساتئ چې اِنسان پابند دے، پۀ هغه پورې واکې دي او د هغۀ واکې د بَل چا پۀ لاسونو کښې دي، پۀ خُدائے مې دې قَسم وي! کله چې هم واکې

راښکي نو اِنسان به بالکل بے ځانه شي او راپرې به وځي- اِنسان خو ډېر څۀ غواړي چې دا هم اوکړم او هغه هم اوکړم، د لوئي لوئي کارنامو کول او د غټو غټو پلازو جوړول يـې زړۀ غواړي خو هر يو اِنسان داسې نشي کولے ځکه چې د هغۀ واګې د بل چا پۀ لاسونو کښې دي- پۀ دې دُنيا کښې څوک هم داسې نۀ غواړي چې هغه ناروغه شي خو بيا هم بيمار شي، څوک هم نۀ غواړي چې د هغۀ پۀ سر باندې دې درد راشي خو بيا هم پۀ سر باندې درد راځي ځکه چې واګې د بل چا پۀ لاسونو کښې دي- وګورئ چې هسې خو اِنسان ډېر پۀ هوا کښې ګرځي خو که پۀ سر يـې درد شي نو د هغې علاج د هغۀ پۀ لاسونو کښې نۀ وي او که تبه يـې شي نو پۀ کټ کښې پروت وي ځکه چې د هغۀ واګې د بل چا پۀ لاسونو کښې دي- څوک غواړي چې هغه دې بوډا شي؟ هر يو هم دا غواړي چې هغه دې بالکل ځوان وي خو بوډا والے ضرور راځي او بيا چې کله بوډا ګس د بوډا توب نه خپلې ځوانۍ ته ګورې نو ساړۀ اسويلي کوي- بے شکه که د چا سره پۀ اربونو کهربونو روپۍ هم وي خو هغه پۀ پيسو باندې صرف دوائي اخستے شي شِفا نۀ، دغه شان نۀ خو د پيسو پۀ ذريعه بوډا والے ختميدے شي او نۀ ځواني اخستے کيدے شي، د اربونو کهربونو روپو پۀ ورکولو هم د ځوانۍ يوه ورځ بلکې يوه ګينټه هم نشي اخستے کيدے، چې اِنسان دومره دے نو بس دے نو بيا ولې نۀ

چې د اللّٰه پاک پهٔ دربار کښې سر ټيټ کړي، د هغهٔ د نافرمانۍ نه ځان وساتي او هم د هغهٔ شي د چا پهٔ لاسونو کښې چې هر څهٔ دي او د قيامت پهٔ ورځ ټولو ته د هغهٔ پهٔ دربار کښې حاضريدل دي۔

## د زړهٔ ساتنه عظيمُ الشان سُنَّت دے

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** تاسو د بيان پهٔ شروع کښې د زړهٔ د ساتنې پهٔ باره کښې واوريدل چې د زړهٔ ساتنه دومره اهمه ده چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چرې هم د چا زړهٔ نهٔ دے ازار کړے۔ هُغه اِنسان څومره بد دے کوم چې د خپل نفس پهٔ وجه بر ناحقه د خلقو زړونه ازاروي، پهٔ چا پورې ټوقې کوي نو پهٔ چا پسې خندا کوي، پهٔ چا باندې د الفاظو ګزارونه کوي نو څوک ويروي ترهه وي يې، څوک پهٔ شک کښې اچوي نو څوک پهٔ غلط خبر ورکولو ويروي، غرض دا چې پهٔ قِسما قِسم طريقو زړونه ازاروي۔

د مسلمان د زړهٔ ساتنه زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عظيم الشان سُنَّت دے، نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زړهٔ ساتنې بے شميره عملي نمونې وړاندې کړې، پهٔ کومو کښې چې يوه دا هم ده چې کله به څوک د رسول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مجلس ته حاضريدلو نو هغوئي به د هغهٔ د

پاره ځائے پرېښودو (شعب الايمان، 468/6، حديث:8933) او بعضې وخت به داسې هم وشول چې صحابۀ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنۡھُم ته به يې فرمائيل: د خپل ورور د پاره ځائے پرېږدئ- (مسلم، ص923، حديث:5684 ماخوذاً) د ځائے پرېښودو اصلي حِکمت څۀ دے؟ الله پاک او د هغۀ خوږ حبيب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پرې ښۀ پوهيږي البته يو حِکمت دا پۀ نظر راځي چې پۀ داسې کولو سره به د راغلي مسلمان ورور د پاره ځائے پراخه شي او هغه به پۀ ارام سره کيناستے شي د دې سره سره پۀ دې کښې د مسلمان د زړۀ ساتنه هم ده- لږ غور اوکړئ چې د کوم خوش قِسمته د پاره به بخپله نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ځائے پرېښودو نو د هغۀ زړۀ به څومره خوشحاليدو؟ باغ باغ بلکې د مدينے منورې باغ به ترې جوړيدو او هغۀ به سوچ کولو چې سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما له دومره اهميت راکړو-

وګورئ چې د يو راتلونکي د پاره لږ شان ځائے پرېښودل داسې نيکي ده پۀ کومه چې هيڅ نۀ لګي خو دلته دا سُنَّت تقريباً چې ختم شوے دے بلکې زمونږ حالت خو دا دے چې څوک پۀ راتلو ووينو نو د دې ويرې نه نور پرلَت وغزوو چې د هغۀ پۀ کيناستو هسې نۀ چې ځائے تنګ نشي، داسې مونږ د ځائے پرېښودو پۀ ځائے د هغۀ د پاره نور ځائے تنګ کړو حالانکې پۀ حديثِ

پاک کښې د " مؤمِن د پاره د نرمیدو " ترغیب راکړے شوے دے- (مسلم، ص 1072، 1073، حدیث: 6601، 6602ماخوذاً) خو مونږ سختیږو-

## د ځائے پریښودو فائدې

اِسلامي وروڼو به زهٔ (یعنې امیر اهل سُنت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه) بیا بیا لیدلے یم چې د فیضانِ سُنَّت د درس پهٔ وخت چې کله مبلغ اِعلان اوکړي چې " نزدې تشریف راوړئ " نو زهٔ لږ شان ورنزدې شم د دې پورې که هغه درې کرته اعلان اوکړي نو اَلْحَمْدُلِلّٰه! زهٔ درې کرته ورنزدې شم- د ورنزدې کیدو دوه فائدې وي: ﴿1﴾ د مبلغ ډاډګیرنه ﴿2﴾ ډیر اِسلامي وروڼه چې ما پهٔ ځائے پریښودو وویني نو مُسکي کیږي او خوشحالیږي نو داسې د ټولو زړونو ته خوشحالي داخلیږي د دې به ما ته اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! ثواب هم میلاؤیږي-

## د مبلغ پهٔ اِعلان کولو لږ شان وروخوَزیږئ

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! کله چې د دَرس او بیان نه مخکښې مبلغ اِعلان اوکړي چې " نزدې تشریف راوړئ " نو لږ شان مخکښې وروخَوزیږئ ولې چې د دې سره به د مبلغ سینه د خوشحالۍ نه مدینه جوړه شي او هغه به ګڼې چې خلق زما خبرې له اهمیت ورکوي- یاد ساتئ چې پهٔ

دِينِ اِسلام کښې د مسلمان زړهٔ ته د خوشحالۍ داخلولو له ډېر اهميت ورکړے شوے دے، د دې اندازه د دې خبرې نه لګولے کيدے شي چې که څوک د مال پهٔ ذريعه د خپل مسلمان ورور زړهٔ نشي خوشحالولے نو هغهٔ ته حکم ورکړے شوے دے چې پهٔ روڼ تندي او د ښه اخلاقو پهٔ ذريعه د هغهٔ زړهٔ خوشحاله کړي پهٔ حديثِ پاک کښې دي: د مسلمان پهٔ مخکښې مُسکې کيدل هم صدقه ده- (ترمذی، 384/3، حديث:1963) پهٔ يو بَل حديثِ پاک کښې فرمائيلے شوي دي: تاسو د خپل مال پهٔ ذريعه خلق نشئ خوشحالولے لهذا د روڼ تندي او د ښه اخلاقو پهٔ ذريعه هغوئي خوشحاله ساتئ- (شعب الايمان، 253/6، حديث:8054)

## د خوشحالۍ فرښته

د مسلمان زړهٔ ته د خوشحالۍ د داخلولو به څهٔ وايم! حضرت علامه جلالُ الدِّين سُيُوطي شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نقل کړي دي: کله چې يو مسلمان د بل مسلمان زړهٔ ته خوشحالي داخله کړي نو الله پاک د هغې نه يوه فرښته پيدا کړي کومه چې د الله پاک عبادت کوي او توحيد بيانوي او بيا چې کله اِنسان مړ شي نو دا د خوشحالۍ فرښته د هغهٔ قبر ته راشي او پوښتنه ترې اوکړي: آيا تهٔ ما پيژنې؟ اِنسان وائي: تاسو څوک يئ؟ نو د خوشحالۍ فرښته

جواب ورکوي: زهٔ د هٔغې خوشحالۍ شکل یم کومه چې تا فلانکي مؤمِن ته عطا کړې وه، اوس به زهٔ پهٔ وحشت (یعنې د قبر پهٔ ویره) کښې تا ته ارام در رسووم، تا ته به ستا حُجَّت (یعنې د منکر نکیر د سوالونو جوابونه) ښایم، د قولِ ثابت (یعنې د حق خبرې) سره به تا ته ثابت قدمي درعطا کووم، د قیامت پهٔ ورځ به ستا خوا له راځم او ستا شفاعت به کووم او پهٔ جَنَّت کښې به تا ته ستا مقام درښایم- (شرح الصدور، ص159)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** تاسو وکتل چې د مسلمان زړهٔ ته خوشحالي داخلول څومره د لوئي اجر سبب دے، لهذا درس او بیان کوونکے مبلغ هم ډیر خوش قِسمته دے ولې چې پته نهٔ لګي هغه څومره د خوشحالۍ خبرې کوي او د مسلمانانو زړونو ته خوشحالي داخلوي، څومره ثواب به ګټې او څومره د خوشحالۍ فرښتے به د هغهٔ د پاره پیدا کولے کیږي- انفرادي کوشش کوونکے خو ډیر د کمال والا اِنسان دے چې هغه د خلقو سره پهٔ مُسکا میلاؤیږي او د هغوئي زړونو ته خوشحالي داخلوي- یاد ساتئ چې کوم اِسلامي وروړ د خلقو سره ښهٔ سلوک کوونکے وي هغه وخت پهٔ وخت د خلقو د زړونو د ساتلو ذریعه جوړوي د دې اُلټا څوک چې د خلقو سره پهٔ تریو تندي

خبرې کوي او ډېرو مسلمانانو ته توجه نۀ کوي هغه د ډېرو زياتو ثوابونو نه محرومه پاتې کيږي۔

## د قولِ ثابت نه مُراد

د حضرت علامه جلالُ الدِّين سُيُوطي شافعي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه پۀ روايت کښې وفرمائيلے شو چې د خوشحالۍ نه پيدا شوې فرښته چې کله قبر ته راشي نو وائي به: " پۀ قولِ ثابت سره به تا ته ثابت قدمي درعطا کووم " ياد ساتئ چې د " قولِ ثابت " نه مُراد حق خبره (يعنې د ايمان کلمه) ده پۀ کومه باندې چې ايمان والؤ ته د الله پاک پۀ رحمت سره ثابت قدمي نصيب کيږي لکه څنګه چې پۀ 13 سيپاره، د سورۀ اِبراهيم پۀ 27 آيت کښې اِرشاد دے:

يُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا بِالۡقَوۡلِ الثَّابِتِ فِي الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا وَ فِي الۡاٰخِرَةِ ۚ

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: الله اِيمانداران پۀ حق خبره باندې د دُنيا پۀ ژوند کښې او پۀ اخرت کښې ثابت ساتي۔

اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! د مؤمِن دا شان دے چې که هر قِسمه مصيبت راشي نو هغه صبر کوي او که هر څۀ وي د دِين اِسلام لَمَن نۀ پريږدي د دې پورې چې د هغۀ ژوند ختم شي، بيا هغه د اخرت پۀ منزلونو کښې وړومبي منزل (يعنې قبر)

ته ورسې نو د اللّٰه پاک پۀ فضل سره د منکر نکیر د سوالونو پۀ وخت ثابت قدم اوسي (یعنې صحیح جوابونه) ورکوي، بیا د هغۀ قبر پراخه کړے شي او پۀ هغې کښې د جَنَّت هواګانې او خوشبویانې راځي، د قبر نه تیاره لرې شي او هغه نُور نُور شي، د اسمان نه اواز راځي: زما بنده رښتیا ووئیل- اللّٰه پاک دې مونږ ټول پۀ " قولِ ثابت " باندې ثابت قدم وساتي-

اٰمِیْنْ بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د زړۀ د ساتنې یو اسان شکل

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! زمونږ پۀ ژوند کښې د زړۀ د ساتنې ډیرې داسې موقعې راځي پۀ کومو کښې چې هیڅ پیسې خرچ کول نۀ غواړي، هیڅ قِسمه له محنت کول نۀ غواړي او نۀ پکښې څۀ خواري او تکلیف وي مثلاً چا تاسو ته ووئیل: " زۀ فلانکي ځائے ته ځم پۀ پته مې پوهه کړئ-" بیا که تاسو پۀ مُسکا ورته پته وښودله یا د هغۀ سره دوه قدمه لاړئ او هٰغه ځائے مو ورته وښودو نو دا هم د مسلمان د زړۀ د ساتنې یو شکل او د ثواب کار دے- دغه شان څوک وزن دار سامان اوچتول او پۀ سر یا اوګو باندې اېښودل غواړي خو اېښودے یې نشي نو اوچت یې کړئ او

د هغۀ پۀ اوګه يـې کيږدئ بلکې که کيدے شي نو پۀ خپلو اوګو باندې يـې اوچت کړئ او د هغوئي ځائے ته يـې ورسوئ-

که د دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول سره تړون لرونکي اِسلامي ورونه داسې کوي نو د دې نه به ډيرې فائدې حاصلې شي مثلاً چې د چا بوج اوچتولے شي د هغۀ د زړۀ نه به دُعاګانې خيژي او هغه به خلقو ته وائي چې دعوتِ اِسلامي والا ډير ښه خلق دي او بيا به هغوئي ته خپله واقعه بيانوي چې يو ځل ما وزن دار سامان اوچتولو نو دعوتِ اِسلامي والا زما نه زما وزن دار سامان پۀ خپلو اوګو واخستو او زما د کور پورې يـې يوړو- مَاشَآءَاللہ! دعوتِ اِسلامي والا ډير زړۀ ساتونکي او غمخواري کوونکي وي، داسې چې د چا وزن اوچت کړے شو کيدے شي چې هغه د دعوتِ اِسلامي دِيني ماحول ته راشي او د دې ورې شان د زړۀ ساتنې پۀ وجه د هغۀ نسلونه ټيک شي-

د دې اُلټا که چرې څوک د دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول سره تړون لرونکي چا اِسلامي ورور ته د سامان اوچتولو يا پۀ سر يا پۀ اوګه باندې د ايښودو خواست اوکړي او هغه هغوئي ته توجه اونکړي نو کيدے شي چې د داسې کولو سره هغه بد ګمانه شي او خپلو بچو ته ووائي چې: ” وګوره ځويه! د دعوتِ اِسلامي والؤ خوا له مۀ ځه دا ښه خلق نۀ دي، يو ځل زما

طبيعت خراب وو او ما سامان نشو اوچتولے نو ما يو دعوتِ اِسلامي والا ته د مدد د پاره اواز اوکړو نو هغه ځان نا غرضه کړو او قصداً يــې داسې ظاهر کړل چې لکه هغه زما اواز هډو اوريدلے نۀ وي، دا ډير سخت او ظالمان خلق دي وغيره وغيره-" وګورئ چې د لږې شان بے احتياطئ پۀ وجه مخامخ ګس مَعَاذَاللّٰه! پۀ بد ګمانئ وغيره پۀ ډيرو ګناهونو کښې اخته کيدے شي-

## د ماشومانو د زړۀ ساتنه هم کوئ

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د زړۀ د ساتنې معامله صرف د لوئي کسانو سره خاص نۀ ده بلکې د ماشومانو سره هم پکــار ده او څومره چې کيدے شي د ټولو ماشومانو سره دې هم يو شان سلوک اوکړے شي خو اکثر خلق پۀ دې معامله کښې احتياط نۀ کوي، هغه داسې چې مونږ د يو ماشوم سره ډير محبت کوو او د بل سره کــم، د کومې له وجهې چې پۀ ماشومانو کښې د محرومئ اِحساس پيدا کيږي- وګورئ چې په عامه توګه کشر بچے مور او پلار ته ډير ګران وي مثلاً که يو ماشوم د 3 کالو دے او بل د دوه نيمو کالو دے نو کوم چې د دوه نيمو کالو دے د هغۀ سره به مور او پلار ډيره مينه کوي خو که مور او پلار صرف هغه ښکلوي، لوبوي يــې او د لوبو څيزونه ورله راوړي نو د 3 کالو ماشوم به پۀ ظاهره باندې مور او پلار ته هيڅ نۀ وائي خو پۀ غير محسوس

طریقه باندې به د هغۀ په زړۀ کښې د مور او پلار د پاره نفرت پیدا کیږي، بیا چې کله په بوډا والي کښې مور او پلار ته د هغۀ ضرورت وي نو هغه د دې خبرې اِظهار هم کولے شي، کیدے شي چې د هُغه وخته پورې د دوه نیمو کالو والا بچے د دُنیا نه رخصت شوے وي یا هغه د دې وجې نه باغي شوے وي چې کله دریم بچے پیدا شوے وو نو مور او پلار هغه شاته غورځولے وو او ټول پام یې دریم بچي ته کولو، بیا چې کله څلورم ماشوم پیدا شوے وو نو مور او پلار دریم ماشوم ته هم څۀ پام نۀ وو کړے او ټوله پام لرنه یې صرف څلورم ماشوم ته کړې وه نو داسې ټول ماشومان د مور او پلار نه بد گمانه کیږي او په بوډا والي کښې به دا ډیره گرانه پریوځي، د مور او پلار نافرماني به کوي او خپل اخرت به خرابوي خو دا هر څۀ به څۀ موده مخکښې د مور او پلار د شوې نادانۍ په وجه کیږي۔

## ماشومان څۀ نا څۀ شعور لري

یاد ساتئ چې ماشومان اګر که واړۀ په نظر راځي خو هغوئي څۀ نا څۀ شعور ضرور لري ځکه خو مور او پلار پیژني او د هغوئي خوا له په منډه منډه راځي، که هغوئي شعور نۀ لرلو نو هغوئي به د مور او پلار خوا له په منډه منډه ولې راتلل او د نورو په رابللو به د هغوئي نه ولې ویریدل؟ که بالکل وړوکے

او نا پوهه ماشوم د پلار نه علاوه بل څوک راواخلي نو هغه ژاړي، د پلار طرف ته ګوري او لاسونه خوزوي او پۀ خپله تنکۍ ژبه ژاړي او د اوښکو پۀ ژبه باندې فریاد کوي چې بابا جانه! ما تاسو واخلۀ!

معلومه شوه چې پۀ ماشوم کښې څۀ نا څۀ پوهه ضرور وي د کومې پۀ ذریعه چې هغه د خپل مور او پلار رویه نوټ کوي خو د بے وسۍ له وجهې څۀ وئیلے نشي او نۀ چا ته فریاد کولے شي خو کله چې هغه لوئې شي نو د خپل مور او پلار د رویې پۀ باره کښې به نورو ته ضرور وائي-

زما (یعنې د امیر اهلِ سُنَّت) سره د ملاقات پۀ وخت ډیر خلق د دې خبرې اِظهار کوي چې زمونږ پۀ ماشومتوب کښې نۀ د مور محبت نصیب شوے او نۀ د پلار- دعوتِ اِسلامي یو عوامي تحریک دے او د دې تعلق د عام اولس سره دے څکه مبلغین وخت پۀ وخت داسې قِسمه خبرې اوري- اګر که هر قِسمه خلق د دعوتِ اِسلامي د دِیني ماحول سره تړون لري خو عام طور د معاشرې زپلي او پۀ زړۀ داغلي خلق دې طرف ته ډیر راځي او خوشحاله، د پراخه رزق والا او مالداره او پۀ عیش عشرت کښې ژوند کوونکي ډیر کم خلق دعوتِ اِسلامي ته راځي- زیاتره غریبه طبقه د دعوتِ اِسلامي د دِیني ماحول طرف ته ډیره راځي اګر چې مالداره خلق هم د دعوتِ اِسلامي

د دِيني ماحول سره تعلق لري او اَلْحَمْدُلِلّٰه! هغوئي رِيرې پريښودې دي، ويښتهٔ يې پريښودې دي، عمامه شريف يې پۀ سر کړې ده او د سُنَّتو نه پۀ ډکو اجتماعاتو او قافلو کښې يې د سفر سلسله جاري ساتلې ده خو د غريبانو پۀ مقابله کښې د داسې قِسمه خلقو شميره ډېره کمه ده، داسې وګڼئ که يو مالداره د دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول سره تړون لري نو د هغهٔ پۀ مقابله کښې به 50 بلکې 75 غريبانان کسان تړون لري نو داسې د مالدارو شميره ډېره کمه ده-

## د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د ماشومانو سره محبت

دا حقيقت دے چې وړوکے ماشوم مور او پلار ته ډېر ګران وي او زړۀ غواړي چې د هغه سره محبت اوکړے شي خو کله چې به ما (يعنې امير اهل سُنَّت) د خپلو بچو سره محبت کولو نو زما به هم دا کوشش وو چې د ټولو سره محبت اوکړم ځکه چې که ما د ټولو ماشومانو پۀ موجودګۍ کښې صرف هم د يو سره محبت کولے نو ممکن وه چې د نورو ماشومانو پۀ زړونو کښې به زما سره محبت کميدلے- د يو نه د زياتو ماشومانو سره د محبت طريقه دا ده چې مثلاً که درې ماشومان دي او تاسو پۀ هغوئي کښې يو ښکلوۍ نو بل سينې ته راجُخت کړئ او دريم راونيسئ او لړ يې وخوزوئ، که چرې تاسو

داسې د ماشومانو سره محبت کول زده کړئ نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! يو ماشوم به هم چې لوئې شي نو باغي کيږي به نۀ-

## د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د زړۀ د ساتنې انداز

(امير اهلسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي:) د دعوتِ اِسلامي پۀ شروع کښې کله چې د قافلې اِصطلاح نۀ وه او قافلې ته وفد وئيلے کيدلو هُغه وخت به زياتره بيانونه ما پخپله کول- اګر چې هُغه وخت د " مدني مقصد " د پاره الفاظوخاص نۀ وو خو زما پۀ ذِهن کښې به هم دا وو چې " ما ته د ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي-" اَلْحَمْدُلِلّٰه! ما د شيطان او د نفسِ اَماره [يعني پۀ ګناهونو باندې د راپارونکي نفس] خلاف جهاد جاري وساتلو او پۀ حديثِ پاک کښې دي: اَلْمُجَاهِدُ مَنْ جَاهَدَ نَفْسَهٗ يعني مجاهد هغه دے چا چې د خپل نفس سره جهاد اوکړي- (مسند امام احمد، 249/9، حديث: 24013 ملتقطاً)

بهر حال د چتې نه يوه ورځ مخکښې به ما (يعني امير اهل سُنَّت) دا اِعلان کولو چې سبا چتې ده مونږ به ماسپښين پۀ دې وخت د کور نه روانيږو او پۀ فلانکي جومات کښې به د مازيګر، پۀ فلانکي جومات کښې به د ماښام او پۀ فلانکي جومات کښې به د ماسخوتن بيان کيږي، اَلْحَمْدُلِلّٰه! زما پۀ

اِعلان کولو باندې به 80، 90 بلکې 100 اِسلامي ورونه راجمع کيدل او بيا به مختلفو جوماتونو ته تلل او د نيکۍ دعوت به يې ورکولو- د الله پاک پۀ فضل او کرم سره هُغه وخت هم زما د مسلمانانو د زړۀ د ساتنې ذِهن وو، د سُنَّتو نه ډکو بيانونو اوريدو د پاره به نوي نوي خلق راتلل او زما به کوشش وو چې څوک يو ځل راغلو نو راغلو بيا هغه ته د دِيني ماحول نه واپس نۀ دي تلل پکار، د دې مقصد لاندې به ما د اِسلامي ورونړو نه د طبيعت پوښتنه کوله او پۀ لاره د تللو پۀ وخت به ما خپل يو لاس د يو اِسلامي ورور پۀ اوګه باندې کيښودو او پۀ بل لاس به مې څوک د لاس نه رانيولو او پۀ دغه وخت کښې به مې د دريم اِسلامي ورور سره خبرې اترې شروع کړلې نو داسې اَلْحَمْدُلِله! زما هم د شروع نه د مسلمانانو د زړۀ د ساتنې ذِهن دے-

د زړۀ ساتنه يواځې پۀ خبرو يا پۀ غوښتلو نۀ کيږي بلکې د ځو پورې چې د دې کار د پاره خودي ختمه نۀ کړې، دې کار ته پوره توجه اونکړې او پۀ عملي توګه د دې کار د پوره کولو کوشش اونکړې د هُغه وخته پورې به دا کار نۀ کيږي- که چرې مونږ د مسلمانانو د زړونو ساتونکي جوړ شو نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! زمونږ د پاره به د ثوابِ جاريه انبارونه جوړ شي- اَلْحَمْدُلِله! د دعوتِ اِسلامي بے شميره مبلغين تيار شوي دي او پۀ ټوله دُنيا کښې د نيکۍ

دعوت عام کوي زما د الله پاک د رحمت نه اُميد دے چې د هغۀ پۀ فضل او کرم سره پۀ دې عظيم کار کښې زما حصه هم شامله ده ځکه چې اَلْحَمْدُلِلّٰه! ما هم ډير انفرادي کوششونه کړي دي-

ميں تو تنہا ہی چلا تھا جانبِ منزل مگر
اک ايک آتا گيا کارواں بنتا گيا

## د مسلمان د زړۀ ساتنه

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** خپل دا ذِهن جوړ کړئ چې د چا زړۀ نۀ دې ماتول بس د ټولو د زړونو خيال ساتل دي- ياد ساتئ چې د څو پورې شرعي مصلحت نۀ وي د خلقو زړونه خوشحالول پکار دي او چرته چې شرعي مصلحت وي يعنې شريعت د زړۀ د نۀ ساتلو حکم اوکړي هلته دې د چا خاطِر نۀ کولے کيږي- اے کاش چې مونږ د مسلمانانو زړۀ ساتنه زده کړو، د هغوئي زړونه ماتول، رَټَل او بغير د څۀ وجهې هغوئي ته پۀ ترس کتل بند کړو- ياد ساتئ چې چا ته پۀ ترس کتل او د هغه زړۀ ازارول هم ګناه ده خو نن سبا داسې پۀ ترس کتلے کيږي لکه چې پۀ ترس کتل هډو څۀ مسئله نۀ ده- اے کاش چې مونږ د مؤمِنانو د پاره نرم او د پراختيا والا جوړ شو! کله چې زمونږ محفل ته څوک راشي نو مونږ لږ شان وخوزيږو او د هغۀ د پاره د ناستې ځائے پريښودونکي جوړ شو- دغه شان چې چرته د تللو راتللو

موقع میلاؤ شي نو د سفر پهٔ وخت پهٔ بس یا ټرین کښې پهٔ خپل سیټ باندې پهٔ خوند د کیناستو پهٔ ځائے نورو مسلمانانو ته خپل ځائے پریږدو چې د لږ وخت د پاره هغه هم کښینې او د څهٔ وخت د پاره تاسو کښینئ، داسې پهٔ قربانۍ ورکولو د مسلمانانو زړونه خوشحالیدے شي۔

## د زړهٔ د ساتنې مختلف شکلونه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** که چرته غور اوکړے شي نو پهٔ ډیرو طریقو د مسلمان زړهٔ خوشحاله کیدے شي مثلاً کله چا له څهٔ تحفه ورکړے شي چې دا هم د زړهٔ د ساتنې ذریعه ده۔ دغه شان چا مسلمان مشوره وغوښتله نو هغهٔ له ښه مشوره ورکړے شي پهٔ دې باندې به هم د هغهٔ زړهٔ خوشحاله شي۔ هم داسې د رشوت وغیره ناجائزه ذریعو نه پهٔ بچ کیدو څوک مسلمان پهٔ نوکرۍ ولګولے شي د داسې کولو سره به د هغهٔ زړهٔ خوشحاله شي او د هغهٔ کور والا به هغه پهٔ نوکرۍ د لګوونکي د پاره دعاګانې کوي۔ هم داسې پهٔ خپله خرچه پهٔ یو اِسلامي ورور باندې د سُنّتو زده کولو او ښودلو قافلو کښې سفر اوکړے شي پهٔ دې سره به هم د هغهٔ زړهٔ خوشحاله شي او هغه چې څهٔ د قافلې نه زده کړي او واپس راشي نو د هغې ثواب به د لیږونکي هم کیږي، ورسره ورسره که پهٔ قافله کښې د سفر کولو پهٔ برکت هُغه اِسلامي ورور د

دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول سره تړون پيدا شو نو بيا چې د هغۀ پۀ ذريعه خومره هم د دِين کارونه کيږي اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیم! پۀ قافله کښې د ليږونکي به هم د هغې ثواب کيږي-

د مکتبة المدينه کتابونه او رسالې هم پۀ تحفه کښې ورکړے کيدے شي د دې هم ډير برکتونه دي- ياد ساتئ چې د زړۀ د ساتنې دا طريقې پۀ ظاهره ډيرې اسانې دي خو پۀ اخرت کښې به د دې ډيره زياته فائده وي- نو

## د مَدَني مذاکرې مَدَني سپرلے

د پاکستان نه بهر يو اِسلامي ورور له ما (يعني امير اهلِ سُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ) د مَدَني مذاکرې ډيرې کيستې ورکړې، کله چې هغۀ 5 واوريدلې نو وه يې فرمائيل، پۀ دې کښې خو ښې ښې طِبي نُسخې، شرعي معلومات، تاريخي معلومات او د فقهي د سوالونو جوابونه دي، تاسو دا کيستې ما له مخکښې ولې نۀ راکولې؟ اوس به زۀ ټولې کيستې اورم-

د دې نه دا هم معلومه شوه چې تاسو پۀ مَدَني مذاکره اورولو هم زړونه خوشحالولے شئ-

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** زمونږه د دِين بزرګانو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم به د خلقو زړونه څنګه ساتل د دې اندازه د دې واقعې نه لګيدے شي،

## د 20 کالو پورې نابينا وو

حضرت سَيِّدُنا اِمام محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نقل کړي دي چې د يو ډير ښکلي هلک د يوې جينۍ سره نسبت (يعني کوېژدن) وشوه هغه ډيره ښکلې او ښائسته وه، ناڅاپه پۀ هغه جينۍ د چيچک داني راوختلې او هغه بد رنګه شوه- د هغې جينۍ کور والا ويريدل چې اوس به څۀ کيږي؟ پۀ دې کښې د هغې جينۍ کور والؤ ته خبر راورسيدو چې د وادۀ د ځلمي د سترګو نظر ورو ورو کمزورے کيږي او بيا خبر راغلو چې هغه نابينا شوے دے- د جينۍ کور والا مطمئين شو چې که زمونږه جينۍ ناروغه شوې ده نو هلک خو هم نابينا شوے دے، بيا د دې دواړو وادۀ وشو او د 20 کالو پورې يـې پۀ خوشحالۍ خوشحالۍ ژوند تيرولو- 20 کاله پس چې کله جينۍ وفات شوه نو د هغه نابينا نظر ټيک شو، خلق ډير حيران شول چې اخر قيصه څۀ ده؟ کله چې د هغوئي نه پوښتنه اوکړے شوه نو وه يـې فرمائيل: دا جينۍ د چيچک مرض ښکار شوې وه او د هغې کور والؤ زړۀ خوږلو نو ما د هغوئي د زړۀ د

ساتنې د پاره د 20 کالو پورې خپل ځان ړوند وساتلو د پاره د دې چې د هغوئې زړۀ مات نۀ شي۔ (احیاء العلوم، 127/3 مفهوماً)

غور اوکړئ چې د ښه سیرت والا د وادۀ ځلمي د زړۀ د ساتنې د پاره خپل ځان د 20 کالو پورې نابینا جوړ کړو او مونږ د معمولي شان قربانۍ د پاره هم نۀ تیاریږو۔ مونږ خوارۀ خوارۀ پۀ واه واه او تراخه تراخۀ پۀ تو تو باندې خوړونکي یو حالانکې داسې نۀ دي کول پکار۔ چرته چې مونږ ته دومره راحتونه او نعمتونه راعطا کړے شوي دي هلته که کله نا کله څۀ تنګي یا ازمیښت راشي نو د صبر او د استقامت نه پۀ کار اخستل او د الله پاک شُکر ادا کول پکار دي او د نا شُکرۍ نه ځان بچ ساتل پکار دي۔ پۀ دې لړ کښې د سبق نه یوه ډکه واقعه وړاندې کووم،

## محمود او ایاز او د بادرنګ پره

منقول دي چې د مشهور عاشقِ رسول بادشاه، سلطان محمود غزنوي رَحْمَةُاللهِ عَلَیْه خوا ته یو ګس بادرنګ راوړو او حاضر شو۔ سلطان بادرنګ قبول کړو او پیش کوونکي له یې اِنعام ورکړو۔ بیا یې پۀ خپل لاس بادرنګ سپین کړو او یوه پره یې خپل خوږ غلام ایاز ته عطا کړه۔ ایاز پۀ خوند خوند وخوړله۔ بیا سلطان دویمه پره پریکړه او ښچپله یې وخوړله نو دومره ترخه

وه چې پۀ ژبه باندې ايښودل يــې ګران وو- سلطان پۀ حيرانتيا سره د اياز طرف ته وکتل او وه يــې فرمائيل: ايازه! دومره ترخه پره تا څنګه وخوړله؟ واه! ستا پۀ مخ باندې خو د بد لګيدو لږ شان اثر هم ظاهر نۀ شو؟ اياز عرض اوکړو: عالي جاه! بادرنګ واقعي چې ډير تريخ وو- پۀ خُله کښې چې مې واچولو نو عقل ووئيل: " تو يــې کړه-" خو عشق ووئيل: " ايازه خبردار! دا هم هُغه لاس دے پۀ کوم باندې چې دې روزانه خواږۀ څيزونه خوړلي دي، که يوه ورځ تريخ څيز ميلاؤ شو نو څۀ وشو! د دې تـﻮکل د محبت د ادابو خلاف دي څـکه د عشق پۀ لار ښودنه ما د بادرنګ ترخه پره وخوړله-" د اللّٰه رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئې باندې رَحمت وي او د هغوئې پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- (رهبرِ زندگی، ص167)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! تاسو وکتل چې غلام د خپل آقا د زړۀ د ساتنې د پاره د بادرنګ ترخه پره وخوړله او زمونږ حال دا دے چې عمل کول خو لويه خبره ده زمونږ سره د زړۀ د ساتنې پۀ باره کښې معلومات هم نۀ وي- کيدے شي چې د داسې واقعاتو د اوريدو سره زمونږ پۀ ذِهن کښې د زړۀ د ساتنې اهميت پيدا شي او يقين اوکړئ که مونږ چرته پۀ خپل کور، محله او چرته چې کاروبار کوو هلته پۀ جائز طريقه د مسلمانانو د زړۀ د

ساتنې، د نورو سره پۀ مُسکا د میلاؤیدو، پۀ قافلو کښې د سفر ترغیب ورکوونکي او د نیکۍ دعوت عام کوونکي جوړ شو نو اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِیم! زمونږه معاشره به پۀ تیزۍ سره ښه کیږي- یاد ساتئ چې پۀ ناجائزه طریقه باندې به د چا د زړۀ ساتنه نۀ کیږي مثلاً که پلار خپل ځوي ته ووائي چې د فلانکي نه جیب ووهه او را یې وړه نو که اوس د پلار زړۀ ماتیږي او که زړۀ یې خُلې له راځي ځوي دې د پلار خبره نۀ مني ځکه چې دا حرام کار دے-

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د مسلمانانو د زړۀ ازارولو نه بچ کیدل او د خیر خبرې کول د بخښنې ذریعه هم جوړیدے شي،

## د خیرخبرو کولو پۀ وجه بخښنه

شیخ سعدي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْه فرمائي: یو کَس وفات شو، د هغۀ د وفات نه پس چا هغه پۀ خوب کښې ولیدو او پوښتنه یې ترې اوکړه: مَافَعَلَ اللّٰهُ بِکَ یعنې اللّٰه پاک ستاسو سره څۀ معامله وفرمائیله؟ جواب یې ورکړو: ما چرې هم څوک نۀ دے ناراضه کړے، هر یو مې د خیر سره یاد کړو او د خیر خبرې مې ورسره اوکړې نو اللّٰه پاک د دې عمل پۀ وجه زۀ خوشحاله کړم او زۀ یې وبخښلم- (بوستان سعدي، ص 149 ماخوذاً)


اے کاش چې مونږ هم د خلقو زړونه خوشحاله کړو چي الله پاک زمونږ نه خوشحاله شي او کله چې الله پاک خوشحاله شي نو مونږ ته به هم خوشحالی راعطا کړي- که چرې مونږ خلق بغير د څۀ وجهې خفه کوو نو کيدے شي چې الله پاک زمونږ نه ناراضه شي او که الله پاک زمونږ نه ناراضه شو نو بيا مونږ د هغۀ د ګرفت نه څوک هم نشي بچ کولے ځکه مونږ ته الله پاک او د هغۀ خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوشحالول پکار دي- کله چې مونږ د داسې خوشحالی د جنډې اوچتولو، د نفرتونو ختمولو او د محبتونو خورولو کار شروع کړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! هُغه ورځ لرې نۀ ده چې هر طرف ته د سُنَّتو سپرلي راشي، د قافلو قطارونه جوړ شي او هر طرف ته نيک اعمال شروع شي-

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** زمونږ مَدَني مقصد هم دغه دے چې "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!" لهٰذا د دې مقصد د پوره کولو د پاره پۀ قافلو کښې سفر کول خپل معمول جوړ کړئ او روزانه نيک اعمال رساله ډکوئ او د هرې مياشتې پۀ وړومبی نيټه يــې د خپل ذمه دار سره د جمع کولو معمول جوړ کړئ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دې پۀ برکت به تاسو نيکان او پرهيزګاره جوړ شی او پۀ معاشره کښې به وځليږئ - پۀ نيک اعمال باندې عمل کوونکے د الله پاک پۀ کرم سره نيک او پرهيزګاره

جوړیږي دي وجې نه به شیطان تاسو نۀ خو نیک اعمال رسالې اخستو ته پرېږدي او نۀ به مو لوستو ته پرېږدي- که ستاسو عمل پۀ 12 نیک اعمالو باندې وي او تاسو خپل عمل جاري وساتئ نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! پۀ ورو ورو به تاسو پۀ 72 نیک اعمال باندې هم عمل شروع کړی-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د راروانې هفتې رساله




فیضانِ مدینه محله سوداګران، زړه سبزي منډۍ کراچي.
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net